د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

# د رسامۍ هنر

## دوهم ټولګی



Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۸۹هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسی کتابونه دپوهني په وزارت پوري اړه لـــري
په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منـــع
ده. له سر غړونکو سره قانوني چلند کيږي.

ISBN 978-9936-25-163-2

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او
د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي
کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## دوهم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۸۹هـ . ش.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکتاب د تالیف، خېړنې او تدقیق کمېټې

## لیکوالان:

محمدظاهر طاهري د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت آمر،
سید انور مېچنخېل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی
محمد غالب الله یار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی

## تایید او مطالعه:

### ملي شورا:

د ولسي او مشرانو جرګو د دیني، پوهنې او لوړو زده کړو د کمیسیونونو غړي.

## د خېړنې او تدقیق کمېټې:

### د علومو اکاډمي:

سر څېړونکی عبدالواجد واجد د علومو اکاډمي د ژبو او ادبیاتو د مرکز رئیس.
ذکریا ملاتړ د علومو اکاډمي علمي غړی.

### د کابل پوهنتون:

پوهندوی محمد رفیق رفیق د کابل د ژبو او ادبیاتو د پښتو څانګې استاد.
نجیب الله عزیزی د کابل پوهنتون د ښکلو هنرونو د پوهنځي مرستیال.

### د پوهنې وزارت:

1. سعدالدین شپون د پوهنې وزارت سلاکار .
2. داکتر صدیق الله ویرا د پوهنې وزارت سلاکار.
3. شیرآقا صنعتیار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست د هنرونو د دیپارتمنت علمي غړی.
4. ادیتور: سیف الرحمن آشنا

### نګارستان:

رحمت الله د غلام محمد میمنګي د نګارستان څخه.

### د محتویاتو، سیاسي، فرهنګي، او دیني برخو د خېړنې او کره کتنې کمېټې،

دکتور محمد یوسف نیازي د پوهنې وزارت سلا کار.
محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

## د تدقیق، تصحیح او څارنې کمیسیون:

دکتور عبدالغفور غزنوي د تعلیمي نصاب، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین- د کمیسیون رئیس.
د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی رئیس.- غړی
سید محمود خلیق د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف ریاست علمي غړی- غړی

### کمپوز او ډیزاین:

عنایت الله غفاري او حمیدالله غفاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ملي سرود

دا وطن افغانستـــان دی — دا عزت د هـــر افغان دی
کور د سولې کور د تورې — هر بچي يې قهرمـــان دی
دا وطن د ټولو کـور دی — د بلوڅـــو د ازبکـــو
د پښتـــون او هزاره وو — د ترکمنـــو د تاجکـــو
ورسره عرب، گوجـــر دي — پامیـريان، نورستانيـــان
براهوي دي، قزلباش دي — هم ايمـــاق، هم پشـه يان
دا هيـــواد به تل ځليږي — لکـــه لمـــر پر شنه آسمـان
په سينـــه کې د آسيـــا به — لکـــه زړه وي جـــاويدان
نوم د حق مودی رهبـــر — وايو الله اکبر وايو الله اکبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

**بسم الله الرحمن الرحیم**

**د پوهنې د وزیر پیغام**

**گرانو استادانو، ښوونکو او زده کوونکو،**

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختگ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د علمي پرمختگ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرگنده ده چې علمي پرمختگ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف ومومي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي گټورې موضوعگانې پکې زیاتې شوې دي. د زده کړې په بهیر کې د زده کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه گرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو میندې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې گډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

زه پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ گران استادان او ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې ستره دنده او درونه مسؤولیت لري.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرگندو اړتیاوو له مخې پراختیا ومومي.

په دې ډگر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تالیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې ددې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو موسسو، او نورو ملگرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردگ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم


## لومړی لوست

# توربانجان

**موخه: د تور بانجان له انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**

**۱. لاندې شکل ته وګورئ اووایئ چې نوم یې څه دی؟**

**۲. د توربانجان د پوټکي او خوړو رنګ څه توپیرونه لري؟**




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي اود تور بانجان د پوټکي او خوړو په هکله دې خبرې وکړي او د هغه شکل دې انځور کړي.



**ښاغلی ښوونکی دې:** د تورو بانجانو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي او هغه دې د ټولګي په توره دړه رسم کړي او پورتنی فعالیت دې په دوي بانـــدې ســـرته ورسوي او د ټولو انځورونه دې وګوري.



**کورنۍ دنده:** توربانجان رسم او رنګه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


## دویم لوست

# زردالو

موخه: د زردالو د انځورولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱– د کال په کوم فصل کې زردالو پخېږي؟

۲–زردالو کوم کوم رنګونه لري؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې د پورته شکل په شان زردالو انځور او رنګه کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د زردالو شکل د ټولګي په توره دړه زده کوونکو ته سکیچ کړئ او د هغه د انځورولو سمه لاره دوی ته ور وښیاست، پورتنی فعالیت په دوی بانـــدې سرته ورسوئ!



**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یو زردالو انځور کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دريم لوست

# ګل دانۍ

موخه: د ګلدانۍ د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱. څو ډوله ګلان مو ليدلي دي؟
۲. ستاسې په کورکې څو ډوله ګلدانۍ شته؟
۳. د ګلدانۍ پرته مو په نورو کومو ځايونوکې ګلان ليدلي دي؟

۲



۱



۳




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې ګلدانۍ په خپلو کتابچو کې انځور او هغه دې په خپله خوښه رنګه کړي، د امکان په صورت کې دې د هغو موادو څخه چې ستاسې په چاپیریال کــې پیدا کېږي لکه ختې، کاغذ، مقوا او داسې نور یو لاسي کار جوړ کړئ!



**ښاغلیه ښوونکیه!** که شونې (ممکنه) وي نو یوه ګلدانۍ ټولګي ته راوړئ او د هغې بانــدني خطونه زده کوونکوته په عملي توګه وښیئ. پورتنی انځور په تــوره دړه وکــاږئ او د دغــه فعالیت اجراکولوته زده کوونکي وهڅوئ!



**کورنۍ دنده:** یوه ګلدانۍ د ختې، کاغذ، یا مقوا څخه جوړه او د خپل ښوونکي تر نظر لاندې یې تېر کړئ او بیایې په خپل کورکۍ وساتئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## څلورم لوست

# د رنګونو ترکیبول

موخه: د دریوو رنګونو  د ترکیبولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱.  د آبي رنګ او زیړ رنګ د یوځای کېدو څخه کوم رنګ په لاس راځي؟

۲.  ولې رنګونه یو د بل سره ترکیبوو؟




(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعاليتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د رنګونو ( سور ، زيړ ، او آبي رنګ) په اړوند دې خبرې وکړې او له هغې وروسته د پورتني شکل په شان رنګونه سره ترکيب کړئ ترڅو ستاسې د غوښتنې سره سم رنګونه په لاس راشي.



**ښاغليه ښوونکيه!** هرې ډلې ته پورته رنګونه په عملي توګه ترکيب کړئ چې زده کوونکي د هغې په ترکيب باندې په عملي توګه وپوهيږي.



**کورنۍ دنده:** پورتني فعاليت تمرين کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځم لوست

# ونه


موخه: د ونې د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱–د ونو پاڼې کوم رنګونه لري؟

۲–څو ډوله ونې مو لیدلي دي؟

۳–په کوم موسم کې د ونو د پاڼو رنګونه بدلېږي؟


۲



۱



۳




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې د ښوونځي انګړ ته ووزي اویوه ونه دې په خپله خوښه انځور کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** پورتني پړاوونه په پام کې ونیسئ لومړی د هغي باندیني خطونه او وروسته یې داخلي خطونه د هغي د جزیاتوسره یوځای د ټولګي پــه تــوره دره انځور کړئ!



**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د خپل چاپېریال څخه یوه ونه انځور کړي او خپل ښوونکي ته دې وښیي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپږم لوست

# د ونې لاسي کار

موخه: د ونې د انځورولو او د هغې د بیاتي کولو سره د لاسي کار په توګه د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱–څو ډوله ونې مو لیدلې دي؟

۲–په لاندې شکل کې کوم ډول ونه وینئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې پورتني پړاوونه په پام کې ونیسي او کاغذ دې دلومړي پړاو پـــه شان بیاتي کړي اوهغه دې راټول کړي. بیا پورتنی شکل دې په قات شوي کاغذ کې انځور کړئ او وروسته له هغې د ونې شکل بیاتي اوهغه خلاص کـــړئ. د دې کار له پاره د مجلو او د اخبار له کاغذونو څخه ګټه واخلئ.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د ونو د ډولونو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ او د ونې د لاسي کار پړاوونه دوی ته په عملـــي توګـــه ور زده کـــړئ او د کاغـــذ اوږدوالی او سور باید برابر وي او دوی ته وواياست چې په راټول شوی کاغـــذ باندې ونه انځور او بیایې بیاتي کړئ ترڅو په پام کې نیول شوي شـــکل پـــه لاس راشي.



**کورنۍ دنده:** پورتنی فعالیت تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

اووم لوست

# دوه رنګه څرخه

موخه: د دوه رنګه څرخې په واسطه د دوو رنګونو د ترکیب سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱. کله چې سور رنګه او زیړ رنګه څرخه وڅرخوو کوم رنګ لیدل کېږي؟
۲. څرخه کوم رنګونه بایدو لري چې د څرخیدو په وخت کې ترینه شین رنګ جوړشي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په درو ډلو وویشل شي ا وهره ډله دې دوه ځانګړي رنګونــه خوښ کړي او بیادې یوه څرخه جوړه کړي نیمه څرخه دې په یوه رنګ او نیمه دې په بل رنګ رنګه کړي او د رنګونو ترکیب دې د هغې په څرخیدو کې په عملي توګه وویني.



**ښاغلیه ښوونکیه!** په ټولګي کې د زده کوونکو په وړاندې یوه څرخه د پنډ کاغذ څخه جوړه کړئ او هغه په دوو رنګونو رنګه کړئ ترڅو زده کوونکي د هغې په جوړولو وپوهیږي. له هغې وروسته پورته فعالیت په دوی باندې سرته ورسوئ او هڅه وکړئ چې هغوی خپل کارونه یو بل ته ښکاره کړي.



**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه یو رسم تمرین کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اتم لوست

# د رنګ پوکول

موخه: د رنګ د پوکولو په واسطه د شکلونو د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- د لاندې شکل په اړه څه ویلی شئ؟

۲-تر اوسه مو په دې بڼه انځورونه لیدلي وو؟




(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او مختلف رنګونه دې په یوه سپین کاغذ باندې واچوي او هغه دې داسې پو کړي چې د ونې شکل ترې جوړ شي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** زده کوونکو ته د رنګ د پوکولو سمه لار په عملي توګه وښیاست چې دوي د پوکولو په طریقه پوه شي.



**کورنۍ دنده:** د رنګ دپوکولو په واسطه یو شکل جوړ کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهم لوست

# د رنګ په پوکولو د ونو د کتار جوړېدل

موخه: د رنګونو د پوکولو سره د زده کوونکو اشنا کېدل.

۱–لاندې شکل څه شي ته ورته دی؟

۲–په دې شکل کې کوم رنګونه کارول شوي دي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي کولی شي چې د رنګونو په پوکولو سره د ونو کتار  جوړ کړئ.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د رنګونو پوکول د قلم د ډنډې یا د کاغذ د لولي یا د داسـې نورو موادو په واسطه تر سره کیږي.تاسي دوی ته د پوکولو لارې چارې په عملي توګه وښیاست.



**کورنۍ دنده:** د رنګونو په پو کولو سره یو شکل جوړ کړئ او ټولګي ته یې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لسم لوست

# د کاغذ راټولولو او رنګ په واسطه د پتنګ جوړيدل

موخه: د کاغذ د راټوليدو او رنګ په واسطه د پتنګ د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱-لاندې شکل څه شي ته ورته دی؟

۲-لاندې شکل څه ډول جوړېږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي اوهره ډله دې یوه پاڼه سپین کاغذ قـــات کړي او بیادې د قات شوي کاغذ په یوه طرف کې د پتنګ نیمه برخه رســـم او بیادې هغه رنګه کړي. مخکې تردې چې رنګ وچ شي قات شوی کاغذ دو باره په رنګ باندې قات او فشارورکړئ پس له څو ثانیو وروسته چې کاغذ پرانیزئ نو د پتنګ شکل به جوړ شوی وي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د پورتني شکل په جوړېدو کې د زده کوونکو سره مرسته وکړئ اوپه لازم وخت ورته لارښوونه وکړئ!



**کورنۍ دنده:** پورتنی شکل تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یوولسم لوست

# د لاله د ګلونو قطار

موخه: د لاله ګلونو د انځورولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کیدل.

۱-د لاله ګلونه کوم رنګونه لري؟

۲-کوم ګل مو خوښیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي په لاله ګلونو کې دې د سیوري او روښنایي په هکله وغږیږي، او وروسته له هغې دې د(پړاوونو) په پام کې نیولو سره د لاله ګلونه رسم کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د پوښتنو له ځوابونو وروسته زده کوونکو ته سم ځواب ووایئ او هم د لاله د ګلونو کتار د دوی په مخکې انځور کړئ ترڅو دوی د رسمولو سمه لار زده کړي.



**کورنۍ دنده:** د لاله یو ګل تمرین کړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوولسم لوست

# د لاله د ګل سیورى او رڼا

موخه: د لاله د ګلونو په رنګونو کې د سیوري او رڼا سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱. لاندې ګلونه څه توپیر سره لري؟
۲. دګلونو پاڼې کوم رنګونه لري ؟

۱



۲



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

د لاله ګلونو څخه څو ګلونه انځور او رنګه کړئ!



ښاغلیه ښوونکیه! د لاله ګلونه لکه څنګه چې په رسم کې د رښودل شوي دي په زده کوونکو انځور کړئ او دوی په دې پوه کړئ چې له روښنايي څخه د سیوري د انځورولو خواته لاړ شي. لومړی باید رسم په روښانه رنګونو رنګه او بیا دې ورو ورو د سیوري رنګونه وکاروي چې په رسم کې سیوری او روښنايي پیداکړي او هغه په رنګونو وښیاست.



**کورنۍ دنده:** د لاله ګل تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیارلسم لوست

# په شپه کې کور

موخه: په شپه کې د کور د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- هغه رنګونه چې شپه پرې انځورېږي پېژنئ؟
۲- په کومو رنګونو شپه انځورېږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده کوونکي دې د ټولګي له تورې درې څخه پورتنی رسم انځور کړي اوپه ټولګي کې دې لېدلو ته وړاندي کړي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** پورته رسم د ټولګي په توره دړه انځور کړي او زده کوونکي دې د هغه په رسمولو وګماري.



**کورنۍ دنده:** سیوری او روښنايي تمرين کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څوارلسم لوست

# کور په ورځ کې

**موخه: په رنګونو باندې د سیوري او روښنايي د ښودلو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.**

۱- په لاندې شکل کې کوم رنګونه وینئ؟

۲- ستاسې په کورکې کوم رنګونه کارول شویدي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په هغو رنګکو باندې چې ورځ پرې انځوریږي رســم او رنګــه کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** هغه رنګونه چې ورځ پرې انځوریږي زده کوونکو ته په عملي توګه وښیاست. او تاسې په عملي توګه په یوه کاغذ کې پورتنی شکل انځور کړئ! چې دوی د رنګونو په کارولو پوه شي اوهم وګورئ چې زده کوونکي څــومره د روښانه رنګکو څخه ګټه اخستی شي. د دوې رسمونه ننداري ته وړاندې کړئ!



**کورنۍ دنده:** د شپې او د ورځې د رنګونو په هکله دخپلې کورنۍ سره خبرې وکړئ اوخپل معلومات پوره کړئ!


(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځلسم لوست

# هندسي شکلونه

موخه: د هندسي شکلونو د انځورولو او رنګه کول سره د زده کونکو آشنا کېدل.

۱-  په لاندې شکلونو کې کوم رنګونه کاریدلي دي؟
۲- لاندي شکلونه مو کله لیدلي دي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې پورتني شکلونه انځور کړي او هغه دې په خپله خوښه رنګه کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د پورتنیو شکلو په هکله زده کونکو ته معلومات ورکړئ او د رنګه کولو په برخه کې ورته لازمه لارښونه وکړئ!



**کورنۍ دنده:** د پورتنیو شکلو څخه یو انځور کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شپاړسم لوست

# د لیږو (بینډۍ) ټاپه

موخه: د لیږو د ټاپې د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱. لاندې ټاپه شوی شکل څه شي ته ورته والی لري؟
۲. کله مو د لیږو په واسطه کوم شکل ټاپه کړی دی؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعاليتونه:**

زده کوونکي دې يوه دانه ليړو په منځ نيمه اوهغه دې په رنګ ککړه کړي او په يوه سپين کاغذ دې ونښلوي او بيادې ، هغې ته شکل ورکړي او لــه هغــى څخه دې ډول ډول ابتکاري شکلونه جوړ کړي.



**ښاغليه ښوونکيه!** يوه دانه ليړو له منځ څخه پرې کړئ اوبيايې په رنګ ککړه او په يوه سپين کاغذ يې ونښلوئ ترڅو زده کوونکي په عملي توګه د ليړو ټاپه ووينې او هم هڅه وکړئ چې هغې ته شکل ورکړئ او مختلف شکلونه دوی ته په کې جوړ کړئ!



**کورنۍ دنده:** د ليړو د ټاپې څخه ډول ډول شکلونه جوړ کړئ.


(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه لسم لوست

# د اورلګیت د خلو په واسطه حرکتونه

موخه: د اورلګیت د خلو په واسطه د انسان د بدن له ډول ډول حرکتونو سره دزده کوونکو آشنا کېدل.

۱. تاسې کله د اورلګیت له خلو څخه سړی جوړ کړی دی؟
۲. کوم حرکت مو خوښېږي چې د اورلګیت له خلو څخه يې جوړ کړئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او هره ډله باید یو اورلګیت ولـــري او د یوبل په مشوره دې د اورلګیت له خلو ځخه د انسان اویا حیوان د بدن مختلف حرکتونه جوړ کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** د اورلګیت له خلو ځخه د انسان اویا حیوان د بدن ځو حرکتونه زده کوونکو ته جوړ کړئ اود دوی استعدادونه و هڅوئ چې دوی په نوبتګره ښه د اورلګیت له خلو ځخه ډول ډول شکلونه جوړ کړي.



**کورنی دنده:** د اورلګیت له خلو ځخه ځو حرکتونه جوړ کړئ!


(c) ketabton.com: The Digital Library

اتلسم لوست

# ډيزاين

موخه: د خط اوږدوالي د ډیزاینونو سره د زده کوونکو بلدېدل.

۱. د لاندیني شکل په اړوند څه ویلی شئ؟
۲. د لاندیني شکل څخه په کومو برخو کې ګټه اخستلای شئ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

**د پورتني ډیزاین په پام کې نیولو سره دې زده کوونکي له ټکي او خــط څخــه ابتکاري ډیزاینونه انځور کړي.**



**ښاغلیه ښوونکیه!** زده کوونکو ته سپارښتنه وکړئ چې د ټکو او خطو څخه په نوښتگره توگه د خپلو کتابچو په څنډوکې ډیزاینونه تمرین کړي اوله دوی څخه وپوښتئ چې له ټکو او خطونو څخه کوم شیان جوړېدلی شي اوپه ځیرتیا سره وگورئ چې دوی څه ډول ابتکار کوي؟ آیا دوی کولی شي چې ټکي او خطونه په مناسبو ځایونوکې وکاروي ؟



**کورنۍ دنده:** د پورتني فعالیت سره سم تمرین وکړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library


## نولسم لوست

# د هیلۍ لاسي کار

موخه: په کاغذ کې د هیلۍ د انځورولو او بیاتی کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

١- کوم الوتونکي موخوښېږي؟

٢- هیلۍ په کوم ځای کې ژوند کوي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په یوه عادي کاغذ کې یوه هیلۍ انځور کړي او وروســـته دې هغه بیاتي کړي ترڅو هغه شکل چې غواړي په لاس راشي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** هیلۍ په ټولګي کې په توره دړه انځور کړئ او د بیاتی کولو په وخت کې د زده کوونکو سره مرسته وکړئ!



**کورنۍ دنده:** یوه هیلۍ انځور، رنګه او ټولګی ته یې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## شلم لوست


# د پرپرک لاسی کار

موخه: د پرپرک د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.


۱. له کاغذ څخه پرپرک جوړولی شئ؟

۲. د پرپرک د جوړولو په اړه څه ویلی شئ؟

۱



۲




(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې له کاغذ څخه یو پرپرک جوړ کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** دزده کوونکو په مخ کې له کاغذ څخه یو پرپرک جوړ کړئ ځکه چې دوی باید د هغه د جوړولو لارې چارې په عملي توګه ووینې.



**کورنۍ دنده:** پورتنی فعالیت په عمل کې پلی کړئ !

(c) ketabton.com: The Digital Library


## يوويشتم لوست

# دمېز انځورول

موخه: د مېز د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- څو ډوله میزونه مو لیدلي دي؟

۲- له مېز څخه څه ګټه اخیستل کېږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې د ټولګي د تورې درې ښخه  یو مېز سکیچ اوهغه دې رنګــه کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** مېز د ټولګي په توره دړه سکیچ  کړئ او د رنګه کولو په هکله یې زده کوونکو ته لازمې لارښوونې وکړئ اوهم ورته ووایئ چې مېز له څه شــي څخه جوړېږي اوڅه رنګ لري.



**کورنۍ دنده:** زده کوونکي دې د چای څښلو مېز  انځور کړي.


(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه ویشتم لوست

# د چرګې انځورول

موخه: د چرګې د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- د رنګ له مخې مو څو ډوله چرګې لیدلي دي؟
۲- له چرګې څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په آزادو کرښو چرګه سکېچ او هغه دې رنګه کړي.



**ښاغلیه ښوونکیه!** یوه چرګه د تورې درې په مخ سکېچ کړئ ترڅو دوی پـــه عملي توګه وګوري چې چرګه څه ډول انځورېږي او د رنګه کولو په وخت کې د دوی سره لازمه مرسته وکړئ اوهم وګورئ چې دوي رنګونه سم کارولی شي؟



**کورنۍ دنده:** د کورنیو حیواناتو څخه یو په خپله خوښه انځور او ټولګي ته یې راوړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


## درویشتم لوست

# د چرګې لاسي کار

موخه: د چرګې د انځور د بیاتي کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- لاندې شکل وګورئ او ووایاست چې څه شی دی؟

۲- د لاسي کار جوړول څه ګټه لري؟




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او د لاسي کار په هکله دې وغږېـــږي اوډ ټولګي له تورې درې څخه دې چرګه انځور او رنګه کړي او بيادې هغه بياتي کړي.



**ښاغلی ښوونکي دې!** د ټولګي په توره دړه چرګه انځور کړي. د بياتي کولو په وخت کې دې د زده کوونکو سره مرسته وکړي او پورتنی فعاليت دې پـــه دوی سرته ورسوي.



**کورنۍ دنده:** په خپله خوښه يوه چرګه رسم او رنګه کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلور ویشتم لوست

# د ډولک جوړول

موخه: د ډولک د لاسي کار د جوړولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- د ډولک د لاسي کار په هکله څه ویلی شئ؟
۲- څوک ښه ډولک جوړولی شي ؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې د ډولک پړاوونه په نظر کې ونیسي او یو ډولک دې جوړ او رنګه کړي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** د زده کوونکو هنري فعالیتونه وهڅوي او د ډولــک پــه جوړولو کې دې ورسره مرسته وکړي!



**کورنۍ دنده:** د ډولک جوړول یوځل بیا تمرین کړئ !


(c) ketabton.com: The Digital Library

## پنځه ویشتم لوست

# د چاینک اوپیالې انځورول

موخه: د چاینک اوپیالې د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- څو ډوله چاینکې اوپیالې مولیدلې دي؟
۲- د چاینکې اوپیالې څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او بیادې چاینک اوپیاله انځور کړي او هره ډله دې خپل کار نورو ډلوته وښيي او د هغو دښکلي کولو له پاره دې له رنګ څخه ګټه واخلي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** چاینک اوپیاله د ټولګي په توره دړه رسم کړي ترڅـــو زده کوونکي د هغې د انځورولو په کار پوه شي. د دوي کارونـــه دې نـــنـدارې تـــه کښېږدي او ښوونکی دې وګوري چې دوي په انځورولو او رنګه کولو کې څومره بریالي دي.



**کورنۍ دنده:** د چاینک او پیالې انځور تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library


شپږ ویشتم لوست

# د وزې انځور

موخه: د وزې د انځورولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- د وزې په هکله څه معلومات لرئ؟

۲- د وزې او د هغې له وژغنو څخه څه ګټه اخیستل کیږي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې وزه له تورې درې څخه انځور او رنګه کړي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** وزه د ټولګي په توره دړه انځور کړي او درنګه کولو پــه وخت کې دی له زده کوونکو سره مرسته وکړي او ودې ګوري چې څو تنــه د انځورولو استعداد یا وړتیا لري، د دوی د استعدادونو یا وړتیاوو د هڅونې له پاره هلې ځلې وکړي.



**کورنۍ دنده:** وزه رسم کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اوه ویشتم لوست

# د سوی انځورول

موخه: د سوی (خرګوش) د رسمولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱– سویه په کوم ځای کې ژوند کوي؟
۲– ستاسې له ډلي څخه څوک سوی ساتي؟



(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وویشل شي او د سوی په اړه دې وغږېږي او بیادې هغه انځور کړي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** سوی د ټولګي په توره دړه انځور کړي او زده کوونکي دې دهغه په انځورولو وګماري او هم دې ووینې چې دزده کوونکو په رســـمونوکې د زیاتې پاملرنې وړ کوم شي لیدل کېږي.



**کورنۍ دنده:** د کورنیو حیواناتو څخه یو په خپله خوښه تمرین کړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اته ويشتم لوست

# منګی (ګړی)

موخه: د منګي د انځورولو او رنګه کولو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- څو ډوله منګي مو ليدلي دي؟
۲- له منګي څخه څه ګټه اخيستل کېږي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library




**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې په ډلو وويشل شي او منګې دې انځور او رنګه کړي او وروسته دې هغه يوبل ته وښيي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** د ټولګي په توره دړه کوزه انځور کړي. د هغې دسکيچ او باندنيو خطونو په هکله دې زده کوونکو ته معلومات ورکړي او درنګه کولو په اړوند دې له دوی سره مرسته وکړي او کارونه دې هره ورځ په ډېر غور وګوري.



**کورنۍ دنده:** منګې تمرين کړئ او ټولګي ته يې راوړئ!


(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ویشتم لوست

# په پوکانه باندي د څېرو رسمول

موخه: په پوکانه کې د سرېو د جوړېدو سره د زده کوونکو آشنا کېدل.

۱- څو ډوله پوکانې مو لیدلي دي؟
۲- په پوکانه کې مو رسمونه کړي دي؟




(c) ketabton.com: The Digital Library



**فعالیتونه:**

زده کوونکي دې پوکانې له ځانه سره ټولګي ته راوړي او وروسته دې هغه پـــو
کړي چې وپړسیږي او بیادې په هغې باندې د سړیو انځورونه وکاږي او له رنګه
کاغذونو څخه دې په لاندنیو برخو کې کار واخیستل شي.



**ښاغلی ښوونکی دې!** د پوکانې د پوکولو او دڅېرو د انځورولو په وخت کې دې
له زده کوونکو سره مرسته وکړي او ودې ګوري چې دوی په انځورولو کې بریـــالي
دي؟ او دوي ته وښایاست چې درنګه کاغذونو څخه په کومو برخو کې ګټه واخلي.



**کورنۍ دنده:** د غه فعالیت یو وار بیا په کورکې سرته
ورسوئ او ټولګي ته یې راوړی.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**